مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۳/۰۵

# په تیر یوه کال کې

## له ښځو سره د ترسره شوي تاوتریخوالي د خبرونو څو سرلیکونه

### د مارچ اتمه، د ښځو نړیواله ورځ

**سرکال هم لکه د تېرو کلونو په شان غوارم د ښځو د نړیوالې ورځې په پار ګڼې داسې مقالې ولیکم چې د مېرمنو په باب زموږ د ټولنې منفي او مثبت افکار څرګند کړي، څو وتوانېږم چې په ټولنه کې او د خلکو په افکارو کې د افغان مېرمنې اوسنی حالت خلکو ته وښيم. په مثبتو پاینتونو به یې خامخا ویاړو او په منفي به یې هغه څوک زوروېږي چې د ښځو د حقونو پلوي دي، پر متضررې خو هسې هم سور اور بل دی. د دې زورېدو او اور بلېدو تر څنګه به مو ټوله هڅه دا وي چې د مېرمنو په باب د خلکو د ذهنونو منفي اړخ په مثبت دول بدل کړو.**

**که زما په مقالو کې د تلې منفي خوا درنه وي، ما به نه ملامتوئ، همدا مو خلک دي، همدا مو ټولنه ده او همدا یې د ښځو په باب نظر دی چې باید د بدلولو هڅې یې ګړندۍ کړو. زه چې د ښځو په باب له دوی سره د تاوتریخوالي او منفي کړونو یادونه کوم، اصلي موخه مې د ښځو د غږ چګول او له دې ناوړه حالت او ستونزو نه د دوی ژغورل دي.**

**افغان مېرمن:**

**د مارچ د اتمې تر لمانځلو او ډالیو نه مو زه درتېره یم،**

**مه مې وهئ!**

**مه مې رټئ!**

**مه مې ښکنځئ!**

**نور څه مه کوئ، د انسان په سترګه راته وګورئ!**

په تیر یوه کال کې زما په وطن افغانستان کې له مېرمنو سره څومره، څنګه تاوتریخوالی شوی دی؟ په دې به یوازې خدای پوهېږي او هغه ښځې به پوهېږي چې عملاً دا ظلمونه او ناروا وي ورباندې شوي دي.

ښایي ځینې لوستونکي به ووایي چې زه هر کال د مارچ د اتمې په مناسبت په خپلو لیکنو کې تر مثبتو شیانو منفي ډېر منعکسوم او خبرې پرې کوم، ریښتیا حقیقت هم همداسې دی. دا تریخ حقیقت همدا اوس عملاً زموږ په ټولنه کې روان دی، پر ښځو باندې بې اندازې ظلم راون دی او زه مجبوره یم چې د مېرمنو د غږ د اوچتولو له پاره دا ترخه حقایق ولیکم. وې وایم او تر ټولو پورې یې ورسوم.
ما پخوا هم د مارچ د اتمې په پار لیکنې کړې دي او اوس هم په هماغه نظر یم. زما د هغه نظر یوه برخه دا ده:

«د میلادي کال د مارچ د میاشتې اتمه نېټه، په نړیواله کچه، د ښځو د ورځې په نامه یادېږي. د دغې ورځې د لمانځلو په ترڅ کې، د نړۍ په ګوټ ـ ګوټ کې د ژوند په بېلا بېلو برخو کې د ښځو لاسته راوړنې په ښو سره یادېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دا یو ښکاره حقیقت دی چې په بیلا بیلو ټولنو او بیلابیلو هېوادونو کې، د ښځو ژوند، د بیلابیلو قوانینو په چوکاټ کې، ژور توپیرونه سره لري. د همدغو توپیرونو په نظرکې نیولو سره دا ویلای شو چې په ټوله نړۍ کې په توپیرسره د ښځو ژوند له کړنو ننګونوسره مخ دی.

دا ننګونې چې په نورو ټولنو کې څومره دي؟ ولې دي... او د حل لارې یې کومې دي؟ دا د هغو ټولنو په خلکو، ستونزو او امکاناتو پورې اړه لري؛ خو د افغانستان په ټولنه کې دا ستونزې دومره ډېرې، له ناورینه ډکې او خو اړخیزې دي چې، نه نوم ورته ایښودلای شو او نه هم سرحد ورته ټاکلی شو. ښه ده وویل شي چې:

**«آبی، ټوله بی»**

او یا هم د دې بل مشهور متل په څیر:

**«پک مې لیدلی و، نه ماغزه وتلی»**

د ښځو په مقابل کې مې تاوتریخوالی او ستونزې لیدلې وې، نه داسې لکه د افغانستان په ټولنه او افغانانو کې.

او دا دی له دغو ټولو ستونزو سره ـ سره، موږ د مارچ اتمه بیا ـ بیا لمانځوو؛ ظاهراً په ویاړ، خو حقیقتاً په تظاهر او غولونې سره.

د هغه هېواد خلک د ښځې ورځ په ویاړ سره، په لوړو مصارفو سره لمانځي چې د هغه هېواد اکثریت میرمنې له ناتوانۍ پرلارې تلای نه شي، د خپل ځان او اولادونو د یوه وخت د خوراک ډوډۍ نه لري، د هغه هېواد خلک د ښځو ورځ لمانځي چې نجونې او ښځې له ډېر مجبوریت نه د اور لمبو ته پناه وړي، د هغه هېواد خلک د ښځو ورځ لمانځي، چیرته چې د ښځو او نجونو د وجود غوښې په انبورشکېږي، پزې، غوږونه او ژبې یې پرې کېږي او د سر ویښتان او نوکان یې ایستل کېږي، او دا دی د هغه هېواد خلک د ښځو ورځ لمانځي چې هلته هره ورځ د جنسي تیري په لسګونه او سلګونه او ښایي په زرګونه پيښې ترسره کیږي، او...

نور چې هیڅ نه وي د چادري یا بوقرې په نامه یو زندان خو په هر کور کې د ښځو له پاره په انتظار ولاړ وي. دا چې دا زندان (چادري) د چا د ذهن اختراع ده، هغه بېله خبره او جلا بحث دی، خو ز ه ورته د ښځو متحرک زندان وایم چې هرې خوا ته ښځه روانه وي، نو دا زندان لکه د انسان کړې ګناه، ورسره وي.

زما د وطن افغانستان قانون د هغه وطن د قانون په لیکه او پیروي جوړ شوی دی، په کوم ځای کې چې پارلمان ته تلونکو ښځو ته د فاحشې او تفالې خطاب کېږي. یو خوا د همدغه قانون له چوکاټه ځان او ټولنه خلاصولای نه شو، بل خوا د هغه قانون د موادو پرضد، شله یو چې د ښځو ورځ، د مارچ اتمه لمانځوو.

د مارچ د اتمې بنسټ ایښودونکو هم که د افغان میرمنې اوسنی حالت لیدلی وای، حیران به وو، چې دا سل کلنه مبارزه او تلاش څه مانا. له هغه نه راورسته د فمینیزم (Feminism) یا د ښځو د حقونو او آزادۍ د ترلاسه کولو غورځنګ (علي بابا یي غلامرضا، فرهنګ سیاسي آرش، انتشارات آشیان،۱۳۸۲،ص ص:۴۱۰- ۴۱۱)

د هڅو پایله څه وه؛ په دې باندې زما د وطن ډیری ښځې او د دوی د حقوقو ناقضین خبر هم نه دي. د دې ټولو غورځنګونو، ورځو او مناسبتونو سره ـ سره زما د ټولنې ښځې په فقر، رنځ، بیسوادی، ناپوهی او د منځنیو پیړیو د قوانینو په دایره کې ژوند کوي.»

په تېر یوه کال کې مې بې شمیره داسې رپوټونه او خبرونه له نظره تېر شوي دي چې پر ښځو او نجونو باندې د رنګارنګ ظلمونو کیسې کوي او دا ښیي چې زما په وطن کې پر ښځو باندې څه روان دي. د سږني مارچ اتمې په پلمه به زه د دې رپوټونو او خبرونو یوازې یو څو سر لیکونه د بېلګې په ډول دلته راوړم، لوستونکي کولای شي ټاکلې په نښه شوی ځای کلیک کړي او رپوټ په خپله ولولي، بیا دې قضاوت وکړي چې زموږ په وطن کې د توپکي حاکمیت په دایره کې پر ښځو باندې څه روان دي:

بي بي سی فارسي:

رئیس جمهور افغانستان دستور 'رسیدگی فوری' به ادعای تجاوز به دختری در بلخ را داد،

بي بي سي پښتو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه سرې پېژندل شوې چې د کابل پر سړک ښځې وهي ډبوي،

بي بي سي فارسي:

'عامل ضرب و شتم دو زن در خیابان کابل پس از پخش گسترده ویدیوی رویداد شناسایی شد'

بي بي سي فارسي:

'یک زن حامله در فاریاب تیرباران شد'

ازادي راديو پښتو:

د فاریاب پولیسو دوه تنه د یوې ۲۸ کلنې اومیندواره مېرمنې د وژلو په تور نیولي،

ازادي راديو پښتو:

په بلخ کې پر یوې ۱۵ کلنې نجلۍ د اوو کسانو جنسي تېری،

بي بي سي پښتو:

تخار کې د ۱۳ کلنې نجلۍ "جنسي ځورونه او په نشه کې نڅول"؛ پولیسو درې کسان نیولي،

بي بي سي فارسي:

آزار جنسی' کودک ۱۳ ساله در افغانستان؛ پلیس تخار: او را مست کرده و رقصانده اند،

صدای امریکا دري:

مردی در بامیان سر همسرش را برید،

بي بي سي پښتو:

"دریو کلونو کې پر ښځو او ماشومانو د جنسي تېري ځه باندې ۵۵۰ پېښې ثبت‌شوي"

بي بي سي فارسي:

تجاوز جنسی به زنان در افغانستان؛ 'ثبت ۵۶۹ پرونده در سه سال'

تاند:

یوناما وايي، په افغان جګړه کې چې هر ۱۰ملکي وګړي وژل کېږي، ۴ يې ماشومان او ښځې دي،

بي بي سي پښتو:

افغانستان: له ښځو سره زورزیاتی؛ لسو میاشتو کې ۱۶۷ مېرمنې وژل شوې دي،

هشت صبح:

۸ صبح، کابل: منابع امنیتی در کابل می‌گویند که مردی همسرش را به دلیل به دنیا آوردن دختر کشته شده است.

این منابع در صحبت با روزنامه ۸صبح گفته‌اند که این رویداد پس از چاشت روز جمعه، بیست‌وهشتم قوس در ساحه «یکه‌توت» از مربوطات ناحیه نهم شهر کابل رخ داده است.
نزدیکان این مقتول به پولیس کابل گفته‌اند که این مرد همسرش را به دلیل به دنیا آوردن دختر کشته است.

منابع امنیتی گفته‌اند که قاتل فراری است و پولیس در جستجوی او است.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د فیسوک کارن جان اغا بهار *Janagha Bahar*:

د نجلی د زېږولو په تور د ښځې وژلو ته دا پیام:

«له ماسپښین راهیسې مې د نړۍ والو له لورې د زیرکي تکنالوژۍ او بیا د ډرون الوتکو برخه کې مطالعه وکړه. افغانستان او نور در په در دولتونه راته یتیم ـ یتیم ښکاره شول. نړۍ د تکنالوژۍ له اړخه په یو خطرناک حالت بدلیدونکي ده. همدا اوس اروپايي هېوادونو تر ۳ میلیارده پورته ډالر یوازې د ډرون الوتکو په صنعت پانګونه کړې. دا وخت نېږدې ۲۰ خطرناک سافټویرونه د ډرون الوتکو دننه ځای پر ځای شوي چې لرونکي هېوادنه به ورڅخه د خپلو دښمنانانو په ځپلو، سرکوبولو او د خپلې قوي دفاع کې کار اخلي. تر ۲۰۲۵ م به د زیرکو ـ خطرناکو سافټویرونو شمېر د ډرون الوتکو دننه ۱۰۰ ته ورسیږي او تر همدې نېټې به نړۍ نېږدې ۱۵ میلیارده ډالره پانګونه یوازې په ډرون الوتکو وکړي .

پټان کاکا؛

دې د لور د تولد په سر د خپلې میرمنې مرۍ ور پرې کوې!»

درنو لوستونکو دا په تېر یوه کال کې زموږ د وطن له ښځو سره د تاوتریخوالي څو بېلګې او ډولونه و، چې ما په مستند ډول له ماخذونو سره تاسو ته په مخکې کېښودل، اوس یې د هغه قضاوت په تله کې واچوئ چې تاسو وربانديې پوهېږئ او بیا سوچ ورته وکړئ چې موږ له فزیکي پلوه اوسېږو د یوویشتمې پېړۍ په دوه زره یوویشتم کال کې او له فکري پلوه چېرې یو...

**موږ سره ښايي چې خپل نیمايي بدن (ښځې)؛ په خپله غوښ نه کړو،**

**موږ باید د ښځو درناوی وکړو، د ژدکړو او ښه ژوند زمینه**

**ورته برابره کړو، طبعي حقونه یې تر پښو لاندې نه کړو،**

**دویمه درجه انسان یې ونه ګڼو او...**

**او په تشو خبرو سره د مارچ د**

**اتمې ورځې د لمانځلو پر ځای،**

**عملاً داسې څه وکړو چې**

**ښځه د ټولنې له خوا،**

**له بل کړای شوي**

**اور نه را وباسو.**

(آصف بهاند)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ